AFGHAN GERMAN ONLINE
http://www.afghan-german.com
http://www.afghan-german.de
افغان جرمن آنلاین

مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندۀ مضمون میباشد، عقیدۀ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد.

عبدالباري جهاني ۲۰۲۰/۰۲/۲۶

# آدم خان او درخانۍ

## لومړۍ برخه

آدم خان او درخانۍ، د پښتنو په اولسي کلتور کي، داسې فوکلوري کيسه ده چي تر بل هر نکل زيات دولونه لري او له کندهار څخه تر سوات او لغمان پوري د پښتنو په ټولو سيمو کې مشهوره ده او په هره سيمه کې جلا رنګ لرۍ. که څوک چاته په کمه سترګه وګوري نو سمدستي ورته ويل کيږي چي آدم خان دي په نظر ګوروان درغلی دی. او که څوک د چا د خبرو په ترخ کې يو بېځايه سوال وکړي نو په ټوکو ورته ويل کيږي چي آدم خان نر وو که ښځه. متلونو ته د آدم خان د نامه د لوېدلو معنی دا ده چي د هغه له کيسي سره بايد د هرې سيمې د خلکو غوږونه اشنا وي او افساني يې په هره سيمه کې جلا جلا ژوند کړی وي. که نور هيڅ نه وي نو هر څوک په دې پوهيږي چي د آدم خان او دُرخانې د ميني داستان ډېر اوږد نکل دی.

که د پښتنو د قبيلوی او اجتماعي اړيکو او د قبيلوی دښمنيو او نرخونو په باب کوم نکل ته مراجعه کيږی نو تر ټولو بهتر نکل به د آدم خان او درخانۍ کيسه وي. د مړيانو د رانيولو او ساتلو، د يارانو د لښکرو درلودلو، د قبيلوي دښمنيو او لښکرو د جوړولو، د پت او عزت د خوندي کولو او بالاخره د يوې سوځنده مينې يو اوږد او خوږ نکل دی چي ځای پر ځای يې دردونکو نارو او نظمونو، چي زياتره له يوې سيمي تر بلې پوري توپير لري، مزه نوره هم زياته کړې ده .

دا نکل د يوسفزيو قوم ته منسوب دی او د نکل له متن څخه ښکاري چي دا پيښې د مغول شهنشاه جلال الدين اکبر په زمانه کې منځته راغلي دي. البته د دې معنی دا نه ده چي دا نکل به حتماً په هغه زمانه کې منځته راغلی او انکشاف به يې کړی وي، بلکه ښايي تر هغه ډېر دمخه او يا وروسته کيسه وي او يا ښايي اصلا دا نکل په دغه شکل بېخي پيښ سوی نه وي او وروسته يې خوله پر خوله او سينه پر سينه انکشاف کړی وي او ځکه يې نو په بېلو بېلو سيمو کې ځانته بېل رنګونه اخيستي دي.

څرنګه چي جلال الدين اکبر ۱۵۵۶-۱۶۰۵ډير لوي پاچا تېر سوی دی او د قدرت زمانه يې هم ډېره اوږده او د واکمنی قلمرو يې هم ډېر پراخ وو او له بلي خوا يې د پښتنو، په تېره بيا د يوسفزيو سره ډېر زيات جنګونه کړي دي؛ نو طبيعي خبره ده چي نوم يې بايد ډېرو زياتو فوکلوري کيسو ته لوېدلی وي. د دلي او شهو د ميني داستان:

که زوره د اکبر پاچا له زوره
دلی وژني په پيلانو
لويه خدايه دا پيلان مي د مولا په تبه مره کې

د قطب خان او نازو نکل، چي يوه برخه يې د آدم خان له نکل سره تړلې ده او ځيني نوري فوکلوري کيسي دغي زمانې ته منسوبې دي.

په عربي فوکلور کي، اکبر ته ورته سړی، هارون الرشيد دی چي د عباسي سلسلې تر ټولو مشهور پاچا وو او دغه علت دی چي د الف ليله وليله دونه زياتو نکلونو ته يې نوم لوېدلی دی چي ډېر خلک فکر کوي چي دا افساني به، په ريښتيا هم، د هغه په زمانه کې منځته راغلي وي.

ما اورېدلي دي چي يوازي د پکتيا په سيمه کې د آدم خان او درخانۍ د نکل څه باندی شل دولونه موجود دي، او په خپله په لره پښتونخوا کي، چي د دې افسانې د منځته راتللو اصلي صحنه او سيمه ده، دوه نکل چيان دغه کسيه په يوه ډول نه کوي.

د آدم خان اودرخانۍ نکل د ملی هيندار په حواله داسې دی چي وايي په يوسفزيو کې دوه خانان ول. يو حسن خان نوميدی چي د آدم خان پلار وو او بل د درخانۍ پلار وو چي تاوز خان، يا طاووس خان، نوميدی. تاوزخان خپله لور دُرخانۍ د حسن خان زوی آدم خان ته په کوچنيوالي کې ورکړې وه. آدم خان او دُرخانۍ، پرته له دې چي په يوه بل دي خبر وي په مسجد کې سره ويني او پر يوه بل باندې زړونه بايلي. لږوخت وروسته د آدم خان پلار خپل زوی ته ، د هغه سره د سلا او مشورې کولو پرته د بايزيد خان ښايسته لور توتيا ور غواړي او کله چي د توتيا پلار خبرېږي چي هغه ته يې په کوچنيوالي کې درخانۍ ور غوښتي ده د خپلې لور پر ورکولو پښېمانه کيږي او آدم خان



افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بڼي پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ

د خپل پښتني پت د ساتلو په خاطر توتیا په شپه کې تښتوی. د توتیا پلار د خپل عزت څخه د دفاع لپاره پرآدم خان باندی لښکر کوي او په جنګ کی ډېر کسان وژل کیږی. دغه ډول د درخانۍ پلار هم نه غواړی چې خپله لور داسې چاته واده کړي چې هغه یوه بله ځوانه ښایسته مېرمن لري. او په عوض کی پر خپله کړي وعده پښېمانه کیږی او خپله لور پایاو خان یا پایوخان ته ورکوی. په د ې توګه د مینانو د یو ځای کېدلو او وصال په مخ کی ډېر لوی خنډ منځته راځی. آدم خان ته خپله ناکراره مینه قرار نه ورکوي او څو ځله د شپې په تیاره کی په پټه د درخانۍ کورته ورځي او شپې ورسره تېروی. پایاو خان د درخانۍ او آدم خان د پټو لیدنو کتنو څخه خبرېږی او ژر تر ژره د هغې د واده کولو ترتیبات نیسی. آدم خان غواړی درخانۍ په زور بوزي نو له خپل ماما میرمامي څخه مرسته غواړی. درخانۍ د میرمامي کورته بیایی خو پایاو خان میرمامي ته رشوت ورکوي او میرمامي بیرته درخانۍ په لاس ورکوی.
د آدم خان او پایو خان ترمنځه په جګړه کی آدم خان ټپی کیږی، مړ کیږی او درخانۍ هم د آدم خان له غمه مری.
د ملی هینداري په روایت، چې مرحوم عبدالحی حبیبی هم په خپل کتاب پښتانه شعرا کی د آدم خان په بحث کی له هغه څخه استفاده کړې ده، آدم خان په مسجد کی پر درخانۍ باندی مین سو. حیات افغاني وایی چې آدم خان د باتور آهنګر دوکان ته ورغلی وو، د خپل آس نعل یې جوړاوه. په دغه وخت کی درخانۍ د ورېشلو د څرخ د میلې جوړولو لپاره دباندی راوتلې وه. د درخانۍ او آدم خان سترګی سره ولګېدلې او دواړه سره مینان سول. (محمد حیات خان ص ۲۳۲)
د پاکستان د فوکلوری کیسو په یوه مجموعه کی راغلي دي چې آدم خان د آهنګر د دوکان سره نیژدې رباب واهه ، درخانۍ، چې په دغه وخت کې دباندې راوتلې وه، د رباب ږغ واورېدی، غوږ یې ورته ونیوی او چې د رباب ږغونکی آدم خان یې ولیدی نو پر هغه باندی مینه سوه او چې آدم خان ورته وکتل نو هغه هم پر مین سو. (زینب ص ۱۱۷)
اروپایی منابعو هم دغه برخه تقریباً په دغه شکل اخیستي ده او یو روایت وایی چې آدم خان او درخانۍ د یوې چینې پر غاړه سره ولیدل چې درخانۍ له هغې څخه اوبه وړلې. د هغوی تر منځ یوه لویه ډېره وه. هغه دوه ځایه سوه او دوی د یوه بل مخونه ولیدل او سره عاشقان سول.
د پښتو فوکلوري کیسو په یوه بله مجموعه کی لا ګورو چې درخانۍ د خپلی ډېري نیژدې خورلنې بسکی واده ته تللې ده. هلته آدم خان رباب وهی. درخانۍ چې د رباب ږغ اوري نو بې تابه کیږی او د هغې خوني په دروازه کی درېږی چې نارینه پکښی ناست دي او رباب ږغول کیږی. درخانۍ بالاخره مخ لوڅوی او د آدم خان رباب ته نڅا پیل کوی دلته د دواړو ترمنځ د اورنی مینی داستان پیل کیږی. (خاوري ص ۴۱)

د آدم خان او درخانۍ نکل د مینی د پیل کېدلو څخه نیولې بیا د نکل تر پایه پوری د یو لړ ناممکناتو مجموعه ده، چې د پښتنو ، په تېره بیا د یوسفزیو د ټولنیزو اصولو او دودونو سره ، چې دا نکل هغی قبیلې ته منسوب دی، په هیڅ توګه سر نه خوری. خو په زړه پوری خبره دا ده چې د مرحوم عبدالحی حبیبی، پروفیسر نواز طایر او مرحوم عبدالروف بینوا په څېر لویو لیکوالانو او څېړونکو دغی کیسي ته د ریښتوني تاریخی داستان په سترګه کتلي او په دغه رڼا کی یې څېړني ورباندې کړي دي. او دغه نکل ته منسوبې ناري یې د پښتنو ښځینه او نارینه شاعرانو د کلام د نمونو په توګه راوړي دي. وګوری پښتني مېرمني د مرحوم بینوا اثر او پښتانه شعرا د مرحوم حبیبي اثر.
پروفیسر محمد نوازطایر خو د آ دم خان او درخانۍ د نکل په باره کی یو غونډ کتاب لیکلی دی. د پښتنو دغه نکل یې د شکسپیر د رومیو او ژولیت د داستان سره مقایسه کړی دی. په داسی حال کی چې نه شکسپیر او نه کوم بل لیکوال کوم وخت ویلي دي چې د رومیو او ژولیت کیسه د ریښتیا نیو پېښو څخه جوړه ده. خو پروفیسر نواز طایر پر خپله خبره ټینګ ولاړ دی. د آدم او درخانۍ کیسه ریښتوني پېښه بولي او په هغه نکل کي راغلو پېښو ته اخلاقي او شرعي دلایل تراشي او د آدم خان او دُرخانۍ تر منځ له میني او اخلاقي او اولسي اصولو له رعایت کولو څخه دفاع کوي.
نوازطایر دا مني چې دُرخانۍ د پایاو خان په نامه شوې وه چې له ادم خان سره یې دیدن وشو او یو بل سره مین شول. خو وروسته وایي چې له پایاو خان سره د هغې نکاح نه وه شوې او د هغې د ارادې په خلاف هغه ته تش کوژده شوې وه. او که یې نکاح شوې وای نو نه به د هغې مور د بسکې واده ته د تللو اجازه ورکړې وای او نه به دُرخانۍ، په داسې حال کې چې له پایاو خان سره یې نکاح شوې وه، له آدم خان سره مینه پیل کړې وای. (طایر ص ۱۲)
ښاغلی طایر وایي په دې حساب نو پر آدم خان باندې دا الزام لګول بالکل نامناسبه او بېځایه دی چې وایي هغه یوه نکاح کړې ښځه تښتولې ده. (هغه کتاب هغه مخ)
البته نواز طایر موږ ته دا نه وایي چې له پښتنو نجونو سره، چې زیاتره به یې په کوچنیوالي او د مور د شیدو رودلو په عمر کي د مېړونو په نامه کولې، کله سلا مصلحت سوی وو، چې موږ دا کار د دُرخانۍ په حق کي ظلم او د هغې د ارادې خلاف عمل وبولو. ګواکي له یوې پښتني پېغلې سره، چې آدم خان ته هم په نکاح سوې نه وه، پر پالنګ باندې څو شپې تېرول او بالاخره د هغې تښتول نو روا کار دی؟


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیرلو مخکي په څېر و لولـئ

پروفیسر نواز طایر وایی د کوزي بازدرې ښاغلي میا غلام صاحب، چې اوس یې عمر شپږاتیا کلونو ته رسیږي، ماته وویل چې ما د خپل نیکه نه اورېدلي دي چې آدم خان د جنګو د علاقې اوسېدونکی وو. د بنیر بابا زیارت ته روان وو، په لاره کې یې د رباب غوږی مات شو، د بري باز درې د یوه ترکاڼ دوکان ته د غوږی د سازولو دپاره ورغی. هلته یې درخانی په نظر شوه ، د دواړو په یوه بل سترګې خوږې شوې او د مینی اور یې په سینو کې بل شو. پروفیسر نوا طایر وروسته لیکي:
ښاغلی عبدالغفور، چې په خپلو پېژندګلو خلکو کی په کاکاجی نوم یاد دی، وایی چې دوی دواړه د نو ښار نه په تېښته راغلي وو او په بازدره باندی دېره شوي وو او هلته پرې دغه ټول واقعات تېر شوي دي. او د مرګ نه پس یې دواړه بېرته خپلی علاقې ته وړي دي او هلته یې یو ځای سره خاورو ته سپارلي دي. (ص ۱۵)
که د ښاغلي نواز طایر له قوله سره سم، میاغلام صاحب، د کتاب د لیکل کېدلو یعني ۱۹۸۰ کال په شاوخوا کي نواز طایر ته کیسه کړې وي نو په دې حساب به هغه د نونسمي پېړی په وروستي لسیزه کي زېږېدلی او نیکه به یې حتما د شلمي پېړی په لومړی لسیزه کي، چې میاصاحب به د دوولسو یا پنځه لسو کالو په شاوخوا کي عمر درلود، کیسه ورته کړې وي. په دې حساب نو د میاصاحب نیکه هم باید د نونسمي پېړی د نیمایي کلونو سړی وي. خو د آدم خان کیسه د اکبر پاچا زماني ته منسوبه ده، چې شپاړسمه میلادي پېړی کېږي. په دې حساب نو د میا صاحب د نیکه او د آدم خان او دُرخانی د کیسي د منځته راتللو ترمنځ تقریباً درې سوه کاله فاصله ده. او په دومره زیاته فاصله کي روایت، په هر صورت، له اعتباره لوېږي.
پروفیسر نواز طایر ښایي په هغو یوشمېر محدودو لیکوالانو او څېړونکو کي وي چې د آدم خان دُرخانی افساني ته ریښتوني او تاریخي رنګ ورکوي. دی د ښاغلي محمد حیات خان له قوله لیکي: «د هغو دوو بانډو د کنډوونو او د باتور آهنګر د دوکان آثار موجود دي او د هغي ګټي ذکر هم کوي چې درخانی به پرې څرخه کوله. که یو خواته دغه حوالي ریښتیا اوګڼلی شي نو بل طرف ته په بره باز دره کښي هغه آثار ما په خپله کتلي دي کوم چې د هغه علاقي خلک په ګوته کوي او د آدم خان او دُرخانی د معاشقي داستان سره یې د هغوی په خیال کلک تړون پاته شوی دی. په مثال کښی د باز درې د رود په غاړه چې درخانی به ترې منګي ډکول او اوس هم پکښي زنانه زړوکي وینځي او منګي ترې ډکوي...» (طایر ص ۱۴)
لومړی خو محمد حیات خان خپل کتاب حیات افغاني د ۱۸۸۰ په لسیزه کي لیکلی دی، چې د آدم خان د ژوند او افساني له فرضي زماني سره، چې د اکبر پاچهي ده، زیات وکم درې سوه کاله فاصله لري او د محمد حیات خان حوالي او خبري پر اولسي روایتونو بناء دي. بیا نو هغه د یوه لوی خان لور ته د وربښلو لپاره څرخه په لاس ورکوي چې د خانی او خانزادګی له مقام سره له مخکي تر اسمانه توپیر لري. وروسته پخپله نوازطایر یوازي د ځینو سیمو او قومونو په لیدلو استناد کوي او هغه هم د یوه لوی خان لورته، منګی پر اوږو ورکوي، چې هغه د کو چې پېغلو کار دی نه د یوه دهشین او د جایدادونو او حتی لښکرو د خاوند خان.
نوازطایر د آدم خان د زماني په اړه د مرحوم عبدالحي حبیبي له قوله لیکي چې « د هغه دا خیال دی چې آدم او دُرخانی د اکبر پاچا ۱۵۵۶- ۱۶۰۵ په زمانه کښي ژوندي وو. هغه د دې خبري په ثبوت کښي د اخوند درویزه صاحب په حواله، د محسن خان صوبیدار ذکرکوي. دغه سړی په پېښور او کابل کي د اکبر صوبیدار وو. کېدی شي چې د محسن خان صوبیدار نوم د آدم خان دُرخانی په تذکرو کښي هم چرته د هغوی د نظر نه تیر شوی وي » (طایر ص ۱۵)
د اکبر پاچا زماني ته د آدم خان او دُرخانی د افساني منسوبول کومه نوې خبره نه ده؛ خو د پېښور او کابل له صوبدار محسن خان سره سړی د کیسي په ارتباط نه پوهیږي او نواز طایر هم پوره یقین نه لري او وایي کېدای شي د آدم خان او درخانی په کومه تذکره کي یې ذکر شوی وي. اخوند درویزه د اکبرپاچا په زمانه کي لیکوالي، امامت، شاعري او سیاست کړی دی او د یوسفزیو په سیمه کي اوسېدلی دی. که د آدم خان او دُرخانی کیسه او د لویو خانانو ترمنځ د لښکرو په سویه جنګونه پېښ سوي وای نو هغه به حتما اشاره قدر ورته کړې وای. ځکه چې اخوند درویزه د هغي زمانې، په تېره بیا په یوسفزیو پوري مربوطو، اکثرو مهمو پیښو ته اشاري کړي دي. دا چې د اخوند درویزه په څېر یو لیکوال یې یادونه نه کوي دا پخپله د دې معنی ورکوي چې دا کیسه له سره پېښه سوې نه ده.
دا چې مرحوم حبیبي صاحب د اخوند درویزه په حواله د پېښور د صوبه دارمحسن خان د نامه یادونه کوي؛ په اصل کي محسن خان د محمدګل نوري د ملي هینداري په نوم اولسي نکلونو په مجموعه کي، چې پخپله حبیبي صاحب هم د هغه نکل له نظمونو څخه استفاده کړې ده، راغلی دی. او وایي چې پر میر مامي باندي د آدم خان ښراقبوله سوه او صوبه دار، میرمامی او د هغه خپلوان ټول مړه کړل. (نوري ص ۲۸۴)
کله چې میرمامي له آدم خان سره نامردي وکړه او درخانی یې پایو خان ته په لاس ورکړه نو آدم خان ښرا ورته کړې وه:
یوسفزي دي لوی مرونه
لاس تړلی یې په لاس ورکړم میرمامي په رشوتونه
لوی رنځ دي یې په کوړمه سي


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په څیر و لولئ

د اکبر په بند دي يي کښېوزي ټول تربرونه

ښاغلی نواز طاير يو ځل بيا هم د مرحوم عبدالحي حبيبي په ليکنه استناد کوي او وايي چې ښاغلي حبيبي د کابل کالنی د کال ۱۹۴۴-۴۵ په ګڼه کښي ليکي چې ميجرراورټي د مولوي احمد د کتاب د مقدمي په حواله دا واقعه بالکل ريښتيا ګڼي او درخانی د سوات د سرحد د کوزي بازدرۍ د يوه خان لور بولي او آدم خان د باز دره بالا د يوه خان مشر زوی ګڼي... (طاير ص ۵)
لومړی خو ميجر راورټي د آدم او دُرخانی په باب کومه ليکنه نه لري او د دې نکل په باب يې يوازينی کمال دا کړی دی چې د پښتو ګرامر په مقدمه کې يې د آدم خان او دُرخانی د نکل منظومول د خوشحال خان خټک د دوو زامنو عبدالقادرخان خټک او صدرخان خټک کار بللی دی. (راورټي ص ۲۹)
عبدالقادر خان پښتو ادب ته بې ساري خدمتونه کړي او د ښکليو غزلو او نظمونو تر څنګ يې د سعدي ګلستان پښتو ته ترجمه کړی دی خو له آدم خان او دُرخانی سره تعلق نه لري. او که يې داسي فرض کړو چې ميجر راورټي، د مولوي احمد د کتاب د مقدمي په حواله، د آدم خان او دُرخانی افسانه ريښتيا ګڼلې وي نو د دې خبري اهميت په کوم ځای کي دی؟ ځکه چې ميجر راورټي هم د نونسمي پېړۍ سړی دی او د افساني له فرضي زماني سره زيات و کم درې سوه کاله فاصله لري.
کله چې د دې عشقي افساني په باره کي سړی د بېلو بېلو ليکوالانو او څېړونکو ليکني اړوي را اړوي نو ګوري چې د هغو ليکوالانو شمېر کم نه دی چې د آدم خان او درخانی افساني ته د يوه ريښتوني تاريخي داستان په سترګه ګوري.
د خيبر پښتونخوا يوه ليکواله انيتا اعظم هم په دغه کتار کي راځي. هغې د پښتنو پر فوکلوري افسانو، په اُردو ژبه، يو کتاب ليکلی دی او غواړي دا ثابته کړي يا لږترلږه داسي وښيي چې دا افسانه يو تاريخي واقعيت دی. انيتا اعظم په دې کتاب کي د موسی خان او ګل مکی، دلي او شهو، فتح خان بړېڅ او... په باره کي ليکني کړي دي او هري افساني ته يې يوفصل ورکړی دی مګر نورو افسانو ته د فوکلوري نکلونو په سترګه ګوري خو د آدم خان او درخانی د کيسي په باب وايي چې نن سبا په تعليم يافته کورنيو کي د ښځي او نارينه له خوا د يوه بل د انتخابولو په مسله کي نرمښت ښودل کيږي خو آدم خان او درخاني کيسه زيات وکم پنځه سوه کاله مخکي تېره سوې ده او هغوی په هغه وخت کي د ټولني د رواج او عادت په مقابل کي بغاوت کړی دی او يو انقلابي ګام يې پورته کړی دی. مګر سره له هغه چې دوی د رسم او رواج پر ضد دونه څرګند عمل کړی دی بيا هم له دوی سره د نکل د ټولو اورېدونکو خواخوږي ملګري ده او په دې پوهيږي چې د هغوی مينه حقيقي وه. اعظم ص ۱۹
د آدم خان او درخانی نکل د پښتو ژبې تر ټولو مشهوره افسانه ده. دا افسانه چې د هر پاخه نکل چي لاسته ورغلي ده نو خپل کمال يې پکښې کړی او د خپلی غوښتني سره سم يې رنګ ورکړی دی . او چې د هر مطرب رباب ته ورغلي ده نو د خپل کمال او هنر سره سم يې شهباز باندی شرنګولی دی. له يوې سيمی څخه تر بلې، حتی له يوې خولې څخه تر بلي پوری يې توپير کړی دی او جلا رنګ يې اخيستی دی. پخپله پروفيسر نواز طاير د صدرخان خټک، د آدم درخانی له منظومي څخه بيتونه را اخيستی او ښيي چې دا کيسه دوه تنه په يوه رنګ نه کوی.

تاتي نام يو يوسفزی وو
حاجی خېل وو ښه زلمی وو
ما ترې اوکړله پښتنه
په دا رنګ چې اې دردمنه
دا قصه له مطربانو
له يارانو قصه خوانو
په بل شان و موږ ته کيږی
له تا بل شان معلومېږی
ده وې ما له دې داستانه
تحقيق وکړو ډېر څو شانه

کله چې يوه کيسه دومره زيات رنګونه واخلي، او په منځ کی يوه ليکلي پانه نه وي نو بيا که حقيقت هم موجود وي پيدا کول يي غير ممکن ته نيژدې کيږی. د مثال په ډول به ددې اورنی مينی د پيل کېدلو په باره کی څو روايتونه را واخلو.

د آدم خان او درخانی د مينی پيل:

نوربيا


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بڼي پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکي په ځير و لولئ